**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۰۲** (از ۱۹ الی ۲٦حمل ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د افغانستان پر وضعیت د سوريې د بحران اغېزې**

عربي پسرلی او د سوريې بحران........ ۴

افغانستان او د سوريې بحران........ ۴

د سوريې نوی بحران او پر افغانستان يې اغېزې ........ ۵

**جایگاه اندونیزیا در سیاست خارجی افغانستان**

پیشینۀ روابط دوجانبه........ ۷

پس از سال ۲۰۰۱ میلادی........ ۷

سفر اخیر رئیس جمهور غنی به جاکارتا........ ۸

اهمیت و جایگاه روابط کابل-جاکارتا........ ۹

## مقدمه

تېره اوونۍ په سوریه کې د بشار الاسد د رژیم له لوري د کېمیاوي وسلو د کارېدو په غبرګون کې، امریکا د دغه هېواد یوه هوایي اډه لسګونه توغندي وویشتله، چې د امریکا د دفاع د وزیر په وینا په دغه برید کې د سوریې د حکومت د هوایي ځواک ۲۰ سلنه الوتکې ویجاړې شوې دي. له دغه برید وروسته د امریکا او روسیې اړیکې کړکېچنې شوې او د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرامپ په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د روسیې په تړاو ګواښونکې لهجه وکاروله.

له یوې خوا په سوریه کې یو شمېر افغانان هم په جګړه کې ښکېل دي او له بلې خوا امریکا او روسیه دواړه د افغانستان په قضیه کې ښکېل دي. دا چې د سوریې د کړکېچ دا نوی پړاو به د افغانستان پر قضیه څه اغېزې وښندي، د نورو اړوندو مسائلو ترڅنګ د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې اندونیزیا ته د افغان ولسمشر په مشرۍ د لوړپوړي حکومتي پلاوي د رسمي سفر او د دواړو هېوادونو د دوه‌اړخیزو اړیکو په اړه لولئ. ولسمشر غني جاکارتا ته په سفر کې له اندونیزیایي چارواکو سره د بېلابېلو کتنو او بحثونو تر څنګ، د دواړه هېوانو ترمنځ د دوه‌اړخیزو همکاریو څو هوکړه‌لیکونه هم لاسلیک کړل. اندونیزیا د اسلامي نړۍ هغه ستر هېواد دی چې له څو لسیزو جګړو وروسته یې په بېلابېلو برخو کې ښه پرمختګ کړی او له همدې کبله افغان حکومت هڅه کوي، د دغه هېواد مرسته راجلب کړي. دا چې د دواړو هېوادونو د اړیکو مخینه څه ده او اندونیزیا د افغانستان په بهرني سیاست کې څه ځای لري، د تحلیل په دویمه برخه کې یې لولئ.

# د افغانستان پر وضعیت د سوريې د بحران اغېزې



له تېرې جمعې ورځې راهيسې په سوريه کې وضعيت په چټکۍ سره د بدلون په لور روان دی. د سوريې حکومت د ادلب ښار پر خان شيخون سيمه د "سارين" غاز کيمياوي وسلې وکارولې او له امله يې په دغه برید کې د ۳۳ ماشومانو په شمول لږترلږه ۸۹ کسان ووژل شول. دغه خونړي برید نړيوال غبرگونونه وپارول او همدا لامل و، چې د امريکا متحده ايالتونو هم د سوريې پر شعيرات هوايي اډې ۵۹ توغنديز بريدونه وکړل. د امريکا له دغو بريدونو څخه تقريباً ډېرو هېوادونو ملاتړ وکړ؛ خو روسيې او ايران پرې توند غبرگونونه وښودل.

دغه راز تېره اوونۍ د امريکا د بهرنيو چارو وزير ريکس ټيلرسن هم ماسکو ته رسمي درلود او دا د ټرمپ د ادارې لهخوا د لوړپوړي چارواکي لومړنی سفر و. خو د دغه سفر پرمهال د روسيې ولسمشر ولادمير پوتين د امريکا د بهرنيو چارو له وزير سره ونه کتل او په دې توگه دا له دويمې نړيوالې جگړې راوروسته لومړی ځل شو، چې داسې څه پېښېږي.

ريکس ټيلرسن ماسکو ته له سفر وړاندې په ايټاليا کې د نړۍ د اوو سترو صنعتي هېوادونو په غونډه کې وويل چې روسيه بايد روښانه کړي، چې له امريکا سره د سوريې د رژيم پرضد دربېږي او که د سوريې د رژيم، ايران او د لبنان د حزب الله ډلې ملاتړ ته دوام ورکوي.

دا چې د سوريې بحران څرنگه پيل شو، افغانستان څرنگه له دغه بحران سره ونښلول شو او اوس په سوريه کې دا نوی کړکېچ به پر افغانستان څه اغېزې ولري؟ د اوونيز تحليل په دې گڼه کې مو ياد موضوعات څېړلي دي.

## عربي پسرلی او د سوريې بحران

په ۲۰۱۱ کال کې په منځني ختيځ کې د استبدادي او تېل شوو حکومتونو پرضد ولسي پاڅونونه پيل شول، چې په سياسي او رسنيز قاموس کې دا پاڅونونه د عربي پسرلي په نامه ياد شول. دغو پاڅونونو په لومړيو کې د تونس ولسمشر زين العابدين بن علي او بيا د مصر ولسمشر حُسني مبارک له واکمنۍ بېبرخې کړل. په عمومي توګه د دغو پاڅونونو تر شا اقتصادي عوامل، استبدادي او تېل شوي حکومتونه، د آزادۍ نه شتون او نور وو.

د ۲۰۱۱ کال په مارچ کې دا پاڅونونه سوريې ته هم وغځېدل؛ خو د بشارالاسد لهخوا بيا دا پاڅونونه سخت وځپل شول او ډېر وګړي پکې ووژل شول. د بشارالاسد له پوځ څخه يو شمېر سرتېري بېل او د بشار پرضد يې جګړه پيل کړه. هغه مهال په سوريه کې يو شمېر نورو ډلو لکه القاعدې (په لومړيو کې حزب النصرة)، داعش، کردي ځواکونو او يو شمېر نورو ډلو د بشار پرضد فعاليتونه پيل کړل.

د سوريې په روان کړکيچ کې يوازې دا ډلې د بشار پرضد ښکېلې نه دي، بلکې دلته بهرني لاسونه هم راغځېدلي دي. روسيه، ايران او چين له بشار الاسد څخه ملاتړ کوي او ترکيه، امريکا، سعودي او يو شمېر عربي او اروپايي هېوادونه د يو شمېر بشارالاسد ضد ډلو ملاتړ کوي.

د سوريې اوسنی بحران شپږم کال ته ننوځي او اوسمهال د يويشتمې پېړۍ تر ټولو خونړۍ جګړه ده، چې تقريباً ۴٦۵ زره سوريايي وګړي پکې وژل شوي، يو مليون پکې زخميان شوي او تقريباً د سوريې نيم نفوس (۱۲ ميليونه) له خپلو ځايونو پکې بېځايه شوي دي.

## افغانستان او د سوريې بحران

افغانستان د سوريې له بحران څخه له پيله اغېزمن شوی. کله چې په سوريه کې اسلامپالو پاڅونونه پيل کړل او د سوريې واکمن بشارالاسد لهخوا وځپل شول؛ نو په هېواد کې ځينو اسلامپالو ځوانانو نه يوازې دا چې په ټولنيزو رسنيو، بلکې په لاريونونو کې يې هم د سوريې د اسلامپالو په ملاتړ او د بشار پرضد غبرګونونه ونبودل.

له هغه وروسته بيا افغان ولسمشر حامد کرزي له امريکا سره د خپلو اختلافاتو له کبله، د سوريې له ټولټاکنو وروسته بشارالاسد ته د سوريې د ولسمشر په توګه د ټاکل کېدو مبارکي ورکړه.

دغه راز، له دغو غندنو او مبارکيو وراخوا، له افغانستانه يو شمېر خلک د بشار الاسد پرضد او ملاتړ د جنګېدو په موخه سوريې ته ولاړل. په عمومي توګه د بشار الاسد پر ملاتړ ډېرى افغان شيعه ډلې تللې او د بشار پرضد يو

شمېر افغان سُني وګړي هم په جګړو کې بوخت دي. که څه هم دا چې په سوریه کې به په مجموعي توګه څومره افغان جنګیالي وي په اړه یې څه ویل ناشوني دي؛ خو بیا هم په جلا ډول د بېلابېلو پیاوړو رسنیزو ډلو په اند، د سوریې په جګړه کې به تقریباً تر شلو زرو پورې افغان شیعه وګړي وي. په همدې تړاو ویل کېږي، چې په سوریه کې د "لېوای فاطمیون" په نامه د افغان شیعه‌ګانو یوه ملېشه هم جوړه شوې او د اټکلونو له مخې، دا ملیشه له ۱۰ تر ۱۴ زرو تنو څخه جوړه ده. په بل اړخ کې د سُني جنګیالیو په تړاو تر اوسه نه کومې شمېرې او نه هم کوم اټکلونه شته دي.


## د سوریې نوی بحران او پر افغانستان یې اغېزې

که څه هم دا لومړی ځل نه دی، چې امریکا پر سوریې توغندیز بریدونه کوي، له دې وړاندې هم، امریکا په سوریه کې د داعش ډلې او بې‌پولو ډاکترانو پر روغتون هوایي بریدونه کړي وو؛ خو بیا هم، دا د امریکا له‌خوا د بشار پر پوځونو د بریدونو لومړنی بېلګه ده او له امله یې د روسیې او امریکا اړیکې ترینګلي شوې دي. روسیې وار له مخه له امریکا سره په سوریه کې د الوتنو د تنظیم تړون لغوه کړ او دا برید یې د امریکا-روسیې پر اړیکو اغېزه ښندونکی وباله او ترڅنګ یې اوسنی وضعیت د سړې جګړې له ختمیدو راهیسې تر ټولو بد وضعیت وګاڼه. په بل اړخ کې امریکا له بشار څخه د روسیې ملاتړ خواشینوونکی وباله او له روسیې یې وغوښتل، چې یا له دوی سره ودرېږي او یا هم له بشار الاسد سره.

په یوه داسې مهال، په سوریه کې د ګڼ شمېر افغان شیعه‌ګانو شتون به، چې د سوریې بشار الاسد پکې له خپلو خلکو سره په جګړه بوخت دی، تر ډېره په عربي نړۍ کې د افغانستان نرم ځواک ته زیان ورسوي او هم به د خلکو په کچه اړیکې یو څه زیانمنې کړي. له دې وراخوا، داسې انګېرل کېږي چې که چېرې له سوریې څخه دغه افغان جنګیالي بېرته خپل هېواد ته راوګرځېږي، نو دا به په داخل کې حکومت ته امنیتي ستونزې راولاړې کړي او هم به یوې نوې پېلېدونکې مذهبي جګړې ته زمینه برابره کړي.

دغه راز، په افغانستان کې د امریکا او روسیې ترمنځ ناهمغږي به هم بل هغه څه وي، چې په سوریه کې د امریکا او روسیې له پراخېدونکي کړکېچ څخه اغېزمنېدلای شي او که چېرې همداسې وشي؛ نو دا به بیا د افغان حکومت لپاره ډېر سرخوږی جوړ کړي. ځکه افغانستان به د روسیې لپاره یوازینی هغه ځای وي، چې امریکا تر ډېر فشار لاندې پکې نیولای شي. هغه هم په داسې حال کې، چې له افغان طالبانو سره یې اړیکې پراخې شوې او هم یې له پاکستان سره نظامي او سیاسي اړیکې پیاوړې کړې دي.

## جایگاه اندونیزیا در سیاست خارجی افغانستان



رئیس جمهور غنی و هیأت همراه‌اش هفتهٔ گذشته پس از سفر سه‌روزه به استرالیا، وارد جاکارتا پایتخت اندونیزیا شد. اشرف غنی در این سفر دو روزه با رئیس جمهور، معاون رئیس جمهور، رئیس مجلس سنا، مسؤولین مراکز اسلامی و شماری از تاجران آن کشور دیدار و در رابطه به گسترش روابط دو کشور بحث و گفتگو کرد.

در این دیدارها، جوکو ویدودو رئیس جمهور اندونیزیا اظهار داشت که کشورش در رابطه به تأمین صلح در افغانستان آمادهٔ هر نوع همکاری می‌باشد و هیأتی را در آیندهٔ نزدیک به افغانستان خواهد فرستاد تا در این مورد نظریات و تجارب خویش را با مقام‌های افغان درمیان بگذارد. رئیس جمهور اندونیزیا همچنان تعهد کرد تا یک مرکز بزرگ علوم اسلامی را در افغانستان بنیان نهد و از طریق این مرکز روابط علمای دو کشور گسترش یابد.

افغانستان با اندونیزیا روابط دوستی و مناسبات ٦٢ ساله دارد که اشتراکات دینی در روابط دوجانبۀ افغانستان و اندونیزیا، نقش مهمی را بازی می‌کند. اندونیزیا از لحاظ نفوس بزرگترین کشور اسلامی در جهان به شمار می‌رود و افغانستان نیز کشوری است که بیش از ۹۹ درصد نفوس آن را مسلمانان تشکیل می‌دهد.

در این تحلیل بر چگونگی روابط افغانستان با  اندونیزیا، جایگاه جاکارتا در سیاست خارجی افغانستان و همچنان سفر اخیر رئیس جمهور غنی به این کشور پرداخته شده است.

## پیشینۀ روابط دوجانبه

افغانستان از نخستین کشورهایی بود که پس از به پایان رسیدن انقلاب در اندونیزیا، این کشور را در سال ۱۹۴۹م به رسمیت شناخت. روابط دیپلوماتیک میان دو کشور در سال ۱۹۵۴ رسماً برقرار شد و در همین سال سفارت افغانستان در جاکارتا گشایش یافت.

اولین توافقنامۀ دوستی میان افغانستان ـ اندونیزیا در ۲۴ اپریل ۱۹۵۵م به امضا رسید. سکارنو اولین رئیس جمهور اندونیزیا بود که در سال ١٩٦١م از افغانستان دیدن کرد.

در کل، روابط بین افغانستان و اندونیزیا در زمان جنگ سرد خوب بود و دلیل عمدۀ نزدیکی افغانستان و اندونیزیا نیز در آن زمان آغاز جنبش عدم تعهد بود. افغانستان و اندونیزیا هردو نمی‌خواستند در بلاک‌های کاپیتالیستی و سوسیالیستی قرار گیرند و به همین دلیل یکجا با هند، مصر و چین جنبش عدم تعهد را آغاز کردند؛ هرچند مشخصا نام افغانستان در فهرست بنیان‌گذاران این جنبش بیشتر مشهور نشد.

زمانی که افغانستان توسط شوروی اشغال شد (۱۹۸۹-۱۹۷۹م) اندونیزیا کشوری بود که به همین دلیل بازی‌های المپیک سال ۱۹۸۰م در روسیه را تحریم کرد. علاوه بر این، مسلمانان اندونیزیا با مجاهدین افغان نیز کمک‌های زیادی کردند؛ اما پس از جهاد افغان‌ها، زمانیکه جنگ‌های داخلی در افغانستان آغاز شد، روابط و همکاری‌های اندونیزیا با حکومت و مردم افغانستان نیز تیره‌تر شد.

## پس از سال ۲۰۰۱ میلادی

پس از سقوط رژیم طالبان، اندونیزیا در بخش‌های مختلف از حکومت و مردم افغانستان حمایت نمود و روابط دوجانبه روبه خوبی نهاد. حامد کرزی در دورۀ دوم ریاست جمهوری خود به منظور گسترش روابط میان دو کشور، در ماه نوامبر ۲۰۱۲م به اندونیزیا سفر کرد. وی در آن سفر، علاوه بر اشتراک در پنجمین اجلاس مجمع

دیموکراسی بالی، توافقنامۀ جدید همکاری‌های دوجانبه در ساحات سیاسی، تجارتی و فرهنگی را نیز با مقام‌های اندونیزیا به امضا رساند و کشور اندونیزیا متعهد شد تا افغانستان را در عرصه‌های تخنیکی، ارتقای ظرفیت، تقویت نهادها، زراعت و توانمندی زنان، حمایت کند.

در سفر حامد کرزی به اندونیزیا موافقت‌نامه رفع ویزه برای پاسپورت‌های سیاسی، خدمت و مشاوره‌های دوجانبه میان دو کشور نیز به امضا رسید. در کنار این، اندونیزیا تعهد کرد که استادان افغان را در کشور خویش آموزش خواهد داد و برای محصلین افغان نیز زمینۀ تحصیل در اندونیزیا را فراهم خواهد ساخت. این کشور تاکنون ۳۵۸ محصل افغان را در بخش‌های مختلف آموزش داده است، ولی مناسبات تجارتی بین دو کشور تاکنون سالانه فقط به ۱٦ میلیون دالر می‌رسد.

## سفر اخیر رئیس جمهور غنی به جاکارتا

پس از تشکیل حکومت وحدت ملی این نخستین سفر اشرف غنی به اندونیزیا بود که مورد استقبال گرم رئیس جمهور و مقام‌های آن کشور قرار گرفت و به افتخارش ۲۱ فیر توپ نیز فیر گردید. در این سفر شش سند همکاری در عرصه‌های معارف، زراعت، احصائیه، اصلاحات اداری و خدمات ملکی، ساینس و تکنالوژی و تحصیلات عالی میان افغانستان و اندونیزیا به امضا رسید.

اشرف غنی در دیدار با رئیس جمهور اندونیزیا از تلاش‌های موفقیت‌آمیز و تجارب اندونیزیا در بخش تأمین صلح، انکشاف و رشد اقتصادی یادآوری نمود و گفت که از تجارب اندونیزیا در راستای تأمین صلح و ثبات و رشد اقتصادی افغانستان استفادۀ مناسب شده می‌تواند.

رئیس‌جمهور اندونیزیا نیز در دیدار با رئیس جمهور غنی به‌خاطر تأمین صلح در افغانستان به هرنوع همکاری آماده‌گی نشان داد و گفت، هیأتی را به افغانستان خواهد فرستاد تا نظریات و تجارب شانرا با مقامات افغان در این باره شریک سازد. در کنار این، رئیس جمهور آن کشور از دادن صد بورس به محصلین افغان نیز خبر داد.

علاوه بر این رئیس جمهور افغانستان در دیدارهای جداگانه با معاون رئیس جمهور و رئیس مجلس سنای اندونیزیا نیز بحث و تبادل نظر کرد و هر دو طرف در عرصه‌های مختلف بر همکاری های دوجانبه تأکید ورزیدند. رئیس جمهور غنی با مسؤولین مراکز بزرگ اسلامی، سرمایه گذاران و تاجران اندونیزیا نیز دیدارهایی داشت.

## اهمیت و جایگاه روابط کابل-جاکارتا

اشرف غنی در منشور "تحول و تداوم" نگاشته است: «حلقه‌های کشورهای اسلامی، حلقه‌های مهمی است که چه به صورت مثبت و یا منفی، بر وضعیت داخلی کشور ما تأثیر می‌گذارد؛ زیرا دیدگاه، تفکر و رفتارهای ما تماماً بر اساس آموزه‌ها و باورهای دین مبین اسلام شکل گرفته و هیچ بخش از تار و پود وجود ما نیست که فرهنگ اسلامی ما بر آن حاکم نباشد.» از جمله پنج حلقۀ سیاست خارجی ر ئیس جمهور غنی، کشورهای اسلامی در حلقۀ دوم قرار دارد و اندونیزیا نیز به دلیل اینکه یک کشور مهم اسلامی است، در سیاست خارجی افغانستان از جایگاه مهمی برخودار است.

وضعیتی که از چند دهه به‌این‌سو در افغانستان جریان دارد، اندونیزیا نیز آن را تجربه کرده و حدود ۴۰ سال قبل یکی از فقیرترین کشورهای آسیا بود؛ اما طی ۲۰ سال توانست از آن حالت خود را بیرون نماید و جزء کشورهای توسعه‌یافتۀ آسیا شود. بنابراین، همکاری اندونیزیا با افغانستان در تامین صلح و ثبات موثر پنداشته می‌شود.

افغانستان در مورد چگونگی حل منازعه و گفتگو با گروه‌های مخالف مسلح دولت، تأمین صلح، مبارزه با فساد اداری، توسعه و رشد زراعت، تحصیلات و سایر بخش‌ها به همکاری و تجارب اندونیزیا نیاز دارد و استفادۀ درست از آن موثر واقع شده می‌تواند. به همین دلیل، رئیس جمهور غنی نیز پس از بازگشت به کشور در یک کنفرانس خبری گفت، «اندونیزیا در حل منازعات، تأمین صلح، روند مردم سالاری، رشد اقتصادی و دیگر بخش‌ها تجارب خوبی دارد و می‌تواند با افغانستان همکاری نماید.»

اندونیزیا نخستین و آخرین کشوری نیست که افغانستان تعهد همکاری‌های آن کشور در عرصه‌های مذکور را جلب می‌نماید، بلکه حکومت افغانستان همواره تلاش کرده تا در عرصه‌های مختلف تعهدات کشورهای جهان را جلب نماید، مسأله‌ای که حکومت افغانستان تا حدی در آن موفق‌تر نیز بوده است. ولی بیشتر همچو تعهدات نتیجۀ مطلوبی در پی نداشته است که با چگونگی زمینه‌سازی برای عملی شدن چنین تعهدات در داخل کشور رابطه دارد. حکومت افغانستان در این زمینه با مشکلاتی روبه‌رو است که به گونۀ مثال، می‌توان از جریان جنگ در کشور، وجود فساد اداری، اختلافات داخلی حکومت و غیره یاد کرد.

نکتۀ دیگر در روابط دو کشور قضیۀ پناهجویان افغان در اندونیزیا است. سالانه هزاران پناهجوی افغان تلاش می‌کنند خود را از راه اندونیزیا به استرالیا برسانند که گاه‌گاهی صدها تن آنان در آب‌های اندونیزیا غرق نیز

شده‌اند. زمانی این راه، راه خوبی برای پناهجویان افغان بود، اما با سخت شدن سیاست‌های استرالیا برای پناهجویان و مسدود شدن راه دریا، این راه برای پناهجویان افغان دشوار شد و در حال حاضر هزاران پناهجوی افغان به امید رسیدن به استرالیا و دیگر کشورها در کمپ‌های اندونیزیا با مشکلات زیادی به سر می‌برند و اکثریت آن‌ها در کمپ‌ها و زندان‌های این کشور برای اقامت در یک کشور سوم باید سال‌ها انتظار بکشند. اندونیزیا کشوری است که عضویت کنوانسیون جهانی مهاجرین را ندارد و به همین دلیل طبق قوانین این کشور، مهاجرین حق و اجازۀ کار در این کشور را نیز ندارند.

پناهجویان افغان در کمپ‌های اندونیزیا با مشکلات زیادی روبه‌رو اند و با کوچکترین حرکت (به گونۀ مثال، اعتصاب غذایی) به شدت لت و کوب و به زندان انتقال می‌شوند. نظر به گزارش‌های خبری، تا اواخر سال ۲۰۱۴م حدود ۳۰۰۰ افغان در زندان‌های اندونیزیا زندانی بودند، در حالی که حکومت افغانستان در این زمینه هیچ اقدامی نکرده است. بنابراین، اکنون انتظار می‌رود که موج اخیر گرم شدن روابط کابل – جاکارتا، حلال مشکل پناهجویان و زندانیان افغان در اندونیزیا نیز شود.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.